


# د ګاونډ څارنې په اړه نور معلومات

### Brottsförebyggande rådet (Brå) – (د جرم د مخنیوي ملي شورا)

د دې متن اساس په دې موضوع دی *Grannsamverkan i flerfamiljshus - en guide* (د زیاتو پوړونو په اپارتمانونو کې د ګاونډ څارنې لارښود). د Brå's په ویب پاڼه تاسې په دې اړه نور معلومات ترلاسه کولی شئ چې د اپارتمان په ودانیو کې تاسې د ګاونډ څارنې کار څنګه کولی شئ، همدا ډول د بیلابیل سیمه ییز ګاونډ څارنې د سیکمونو په اړه معلومات ترلاسه کولی شئ او دا به ستاسې په علم کې دا اضافه وکړي چې دغه څیړنه څه څرګندوي.

www.bra.se/grannsamverkan

### د جرم خلاف مرسته

په ملي کچه، دا اداره *Samverkan mot brott* (د جرم خلاف مرسته) د ګاونډ څارنې په مفکورې سره په شعور او پوهه کې اضافه کوي، عمومي لارښوونې وړاندې کوي او د روزنې او معلوماتو مواد وړاندې کوي.

Samverkan mot brott
Grannsamverkan

دا داره چې Samverkan mot brott جوړوي، په دې کې پولیس، Bra، (Sveriges Kommuner och Landsting (SKL او SSF چې ( مخکې Stöldskyddsföreningen نومیده)، او همدارنګه د بیمې شرکتونه، د ملکیت څښتنان او د استوګنځی اتحادیې شاملې دي.

www.samverkanmotbrott.se

### تاسې منتظم جوړیدل غواړۍ؟

د نورو معلوماتو لپاره د ګاونډ څارنې د اړوند تن سره تماس ونیسئ:

*Skriv in era kontaktuppgifter här.*
*Lägg in er logotyp under era kontaktuppgifter eller till höger genom att lägga till bild.*

© Brottsförebyggande rådet 2016, Form: Ordförrådet AB och AB Typoform, Illustratör: Anna Gunneström



# تاسي غواړۍ چې په خپل ګاونډ کې په امنيت ښه کولو کې مرسته وکړۍ؟

## رضاکار منتظم جوړ شئ او د ګاونډ په څارنه کې کار وکړئ!

د يوه رضاکار متظم په توګه به تاسې د خپلې استوګنې د سيمې په پرمختګ کې همکاري کوۍ. د ملکيت د څښتنانو، پوليسو، ښاروالۍ او هغه کسانو سره چې ستاسې په سيمه کې وظيفه ترسره کوي، په ګډه تاسې به د داسې امنيتي وضعيتونو په جوړولو کې مرسته کوۍ چې د جرم مخنيوی کوي او منيتي وضعيت ښه کوي.

### په ګاونډ څارنه کې کوم فعاليتونه ترسره کيږي؟

ګاونډ څارنه دې ته ويل کيږي چې خپل ګاونډيان وپيژندل شي او د نورو خلکو سره سره د ملکيت د څښتنانو، پوليسو او ښاروالۍ سره همکاري وکړل شي چې په خپل ګاونډ کې د جرم او ناخونديتوب د مخنيوي هڅه وکړل شي. په ګډه، خلک له يو بل سره مرسته کوي چې د يو بل په کورونو او عامه ځايونو نظر ساتي، لکه د ننوتلو لارې، د لوبې ځايونه او ګيراج/د پارکنګ ځايونه.

### د ګاونډ څارنې ګټې

په ښه توګه په خپل ګاونډ په نظر ساتلو سره

- ستاسې د استوګنې په سيمه کې جرم کميږي
- له يو بل سره په کور ساتنه او نورو برخو کې مرسته او همکاري کيږي
- هغه کسان چې ستاسې په سيمه کې کار کوي يا وسيږي، د هغوی امنيت او خير ښيګړه يقيني کيږي
- د اوسيدونکيو او نورو علاقه لرونکي خواو ترمنځ باور زياتيږي

په اپارتمان بلاکونو کې د ګاونډ څارنې د سکيمونو په برخه کې سويډني څيړنې ښيي چې د دغه سيکم د کارونو له کبله په ورځني او عادي جرمونو کې شاوخوا په دريو کې يوه برخه کمی راغلی دی.


### د منتظم په توګه ستاسې کار

د منتظم په توګه ستاسې مسؤليت د پام وړ دی او په دې يقيني کولو کې مرسته کول دي چې ستاسې په ګاونډ کې ګاونډ څارنه په ښه توګه ترسره کيږي. په دې کې لاندې کارونه شامل دي:

- د ګاونډيانو او د لومړي منتظم ترمنځ مشورې او نظر ترلاسه کول او وړاندې کول
- اوسيدونکيو ته د ګاونډ څارنې په اړه معلومات وړاندې کول چې په دې کې هغه کسان هم شامل دي چې په دې وروستيو وختونو کې دغه سيمې ته په کډه راغلي
- په ځانګړي فعاليتونو کې برخه اخيستل، لکه د کوڅو نښې لګول او د کړکۍ/دروازې ستيکرې ورکول
- د ګاونډ څارنې د روزنې په کورس کې ګډون کول چې په دې کې د نورو موضوعاتو سره دا هم شامل وي چې د غلا او جرمونو مخنيوی څنګه کيدی شي
- په خپله سيمه کې د ګاونډ څارنې لپاره ژمنه کول.

د ګڼو اپارتمانونو په ودانيو کې به غوره دا وي چې د زينې د يوې لارې لپاره يو يا دوه منتظمين وټاکل شي. د منتظم په توګه، ستاسې د زينې د لارې اپارتمانونه به ستاسې مهم مسؤليت وي. د زينې په هره لار کې به د زينې مرکې ترسره کيږي او په دغه ځای کې به تاسې د امنيت او خير ښيګړې په اړه د بحث کولو لپاره د نورو اوسيدونکيو سره ليدنه کوۍ.

تاسې په ګاونډ کې د تحريک او ژمنې د پيدا کولو په برخه کې هم مرسته کولی شۍ. د دې معنی دا نه ده چې تاسې د جرم د مخنيوي پروګرامونه جوړ کړۍ، خو مهمه خبره دا ده چې د خپلې سيمې په ټولنه کې د مثبت شعور د تقويه کولو لپاره تاسې خپل رول ولوبوۍ.



### د منتظم په توګه مرسته ترلاسه کول

د منتظم په توګه به د ګڼ شمير موسسو چارواکي له تاسې سره مرسته کوي. تاسې د سکيم د نورو غړيو ، او په هر څه لپاسه، د لومړي منتظم څخه د مرستې او معلوماتو ترلاسه کولو هيله لرلی شۍ.

ستاسې د سيمې منتظم د لومړي منتظم يا نورو هغه کسانو سره هم ليدنه کولی شي چې د څارنې په سکيم کې شامل دي او له هغوی سره به په عمومي موضوعاتو بحث کوي.

**موسسه:**

**د همکارۍ ډله**

د همکارۍاو ملګرتيا ډله د پاليسۍ، سرچينو، د کار د تعقيب او دا چې کار څنګه پرمختګ کوي، مسؤليت پرغاړه اخلي. په دغه ډله کې د ملکيت څښتنان، د کرايه دارو اتحاديه، پوليس، ښاروالي او نور کسان شامل وي.

**لومړی منتظم او د همکارۍ سيمه ييزه ډله**

لومړی منتظم د کار د برابرولو او تنظيمولو او د دې يقيني کولو چې دغه کار په عملي توګه تطبيق شي، مسؤل وي. دا تن د اوسيدونکيو او د همکارۍ د ډلې ترمنځ معلومات هم رسوي. ښايي د همکارۍ سيمه ييزه ډله هم وي چې د لومړي منتظم سره د فعاليتونو پلانونه جوړي او هغه تطبيقوي.

**منتظمين**

منتظمين د لومړي منتظم او هغه اوسيدونکيو ترمنځ معلومات رسوي چې په ځانګړي زينه کې اوسيږي. په هره زينه کې به يو يا دوه تنه مناسب وي.

